د افغانستان دموکراتیک جمهوریت

د عدلیې وزارت

# رسمی جریده

شماره «۱۷» ۱۵ قوس ۱۳۵۸ نمبر مسلسل (۴۴۰)

# درین شماره


۱ـ فیصله شماره (۳٦) مورخ ۲ر۸ر۵۸شورای انقلابی مبنی برتائید وتصویب :

ـ میثاق جلوگیری از تصرف غیر قانونی‌طیارات (منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره «٤۳۱» مورخ ۳۱ سرطان ۱۳۵۸ )

ـ قانون رخصتی ولادی (منتشرهٔ جریدهٔ‌رسمی شماره «٤۲۸» مورخ ۱٦جوزای ۱۳۵۸)

ـ قانون محصول آب نل (منتشرهٔ جریده‌رسمی شماره «٤۲۹» مورخ ۳۱جوزای ۱۳۵۸)

ـ ضمیمهٔ شماره چهارم قانون مامورین‌دولت دربارهٔ تعادل رتبه های مامورین شرکت یاموسسات دیگر ( منتشرهٔ جریدهٔ رسمی‌شماره «٤۲۹» مورخ ۳۱ جوزای ۱۳۵۸)

ـ قانون بیمهٔ ملی افغان (منتشرهٔ جریدهٔ‌رسمی‌شماره «٤۳۰» مورخ ۱٦ میزان ۱۳۵۸)

۲ـ تعدیل مواد اول و سوم قانون‌درملتون ها .

۳ـ تعدیل مادهٔ اول قانون لیلام اموال‌ادارات وتصدیهای دولتی .

٤ـ فیصله شماره «۳٤» مورخ ۲ر۸ر۱۳۵۸شورای انقلابی، مبنی برانتقال صلاحیت نشر پول به شورای وزیران حکومت جمهوری‌دموکراتیک افغانستان .

۵ـ تعدیل مادهٔ یازدهم فرمان شماره سوم‌شورای‌انقلابی جمهوری دموکراتیک‌افغانستان.

٦ـ ایزاد فقرهٔ «د» مادهٔ (٦۳) قانون کاروکارگران موسسات صناعتی ملی .

۷ـ ضمیمه شماره یازدهم اصولنامه‌پاسپورت .

۸ـ قانون حقوق وامتیازات شهدای‌انقلاب ثور .

۹ـ تصویب مجلس وزراء مبنی برتغییروقت کار ماموران وکارگران درایام سرما .

۱۰ـ ضمیمهٔ شماره «۵»لایحهٔ دارالتادیب .



مسوول مدیر : غفار گرامی

مرستیال : روح گل نوری

مهتمم : نورعلم

رسمي جريده

### عبد الحکیم شرعی جوز جانی
### د عدلیې وزیر !

د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت انقلابی شورا چې د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتې په لومړی نیټه یې د انقلابی شورا د رئیس او لومړی وزیر ملګری حفیظ الله امین په مشری د خلکو په کور کښې غونډه وکړه د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتې د لومړی نیټې په شپږ دیر شمه ګڼه پر یکړه کښې یې دالوتکو دغیر قا نونی تصرف نه د مخنیوی میثاق چې د بین المللی ملکی هوا نوردی د ساز مان له خوا په ۱۹۷۰ کال کښې تصویب شوی او د ۱۳۵۸ کال دسر طان دمیاشتې د یو دیر شیمی نیټې په «۴۳۱» ګڼه رسمی جریده کښې خپور شوی په څوار لسس مادو کښې تائید او تصویب کړ .

د انقلابی شورا د تصویب مراتب چې د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت د انقلابی شورا د رئیس له خوا منظور شوی او د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتې د پنځمی نیټې په «۳۱۳۲» ګڼه فرمان لومړی وزارت ته ابلاغ شوی تاسی ته خبر درکړ شو چې مو ضوع په رسمی جریده کښې خپره کړی .

**داکتر شاه ولی**
**د لومړی وزیر مر ستیال**

### عبد الحکیم شرعی جوز جانی
### وزیر عدلیه !

شورای انقلا بی جمهو ری دمو کرا تیک افغا نستان که بتاریخ ۱ر۸ر۱۳۵۸ تحت ریاست رفیق حفیظ الله امین رئیس شو رای انقلابی و لومړی وزیر درخانه خلق جلسه نمود ، تحت فیصله شماره «۳۶» مورخه ۱ر۸ر ۱۳۵۸ میثاق جلوگیری از تصرف غیر قا نونی طیا رات مصو به سال ۱۹۷۰ ساز مان هوانوردی ملکی بین‌المللی را که در جریده رسمی شماره «۴۳۱» مورخه (۳۱) سرطان ۱۳۵۸ نشر گردیده بدا خل چهارده ماده تائید و تصویب نمود .

مراتب تصویب شورای انقلابی که بمنظوری رئیس شورای انقلابی جمهو ری دمو کرا تیک افغانستان رسیده و بفر مان شماره «۳۱۳۲» مورخه ۵ر۸ر۱۳۵۸ به لومړی وزارت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا مو ضوع را در جریدهٔ رسمی نشر نمایید .

**داکتر شاه ولی**
**معاون لومړی وزیر**

**عبد الحکیم شرعی جوز جانی**

**د عدلیی وزیر !**

د افغا نستان د دمو کرا تیــــك جمهو ریت انقلابی شوزا چــی د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتی پــه دو همه نیټه یی د انقلابی شــورا د رئیس او لومړی وزیر ملکـری حفیظ الله امین په مشری د خلکو په کور کښی غونډه وکړه د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتی د دوهمی نیټی په «۳٦» ګڼه پر یکړه کښی یــی د در ملتونو قانون چی د ۱۳۵۸ کال د جوزا د میاشتی د یو دیر شمی نیټی په «٤۲۹» ګڼی رسمی جریده کښی خپور شوی د نو موړی قانون د لومړی او دریمی مادی له تعدیل سره تائید او تصویب کړ .

د انقلابی شورا د تصویب مراتب چی د افغا نستان د دمو کرا تیك جمهو ریت د انقلابی شورادرئیس له خوا منظورشوی او د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتی د پنځمی نیټی په «۳۱۳۹» ګڼه فر مان لو مړی وزارت ته ابلاغ شوی تاسی ته خبر ورکړ شو چی د نو موړو موادو تعدیل په رسمی جریده کښی خپور کړی .

**داکتر شاه ولی**

**د لومړی وزیر مر ستیال**

**عبد الحکیم شرعی جوز جانی**

**وزیر عدلیه !**

شورای انقلابی جمهـــــــو ری دمو کرا تیك افغا نستان که بتاریخ ۲ر۸ر۱۳۵۸ تحت ریاست رفیـــق حفیظ الله امین رئیس شـــو رای انقلابی و لومړی وزیر در خانه خلق جلسه نمود ،تحت فیصله شمـــاره «۳٦» مور خه ۲ر۸ر۱۳۵۸ ، قانـون در ملتون ها منتشره جریدهٔ رسمی شماره «٤۲۹» (۳۱) جـوزا ۱۳۵۸ را بداخل چهل و نه ماده با تعدیل ماده اول و سوم آن تائید وتصویب نمود .

مراتب تصو یب شورای انقلا بی که بمنظوری رئیس شورای انقلابی جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان رسیده و بفر مان شمـــاره «۳۱۳۹» مورخه ٥ر۸ر۱۳۵۸ به لومړی وزارت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا تعدیل مواد مذکور را در جریدهٔ رسمی نشر نمایید .

**داکتر شاه ولی**

**معاون لومړی وزیر**

## د در ملتو نو د قا نون

## د لومړی اودريمی مادی تعديل

**لو مړی ماده :**

دغه قانون د ثور د انقلاب دلو ړو هد فونو په اساس د در ملتو نود چارو د تاسيس او تنظيم په‌منظور وضع شويدی .

**دريمه ماده :**

د در ملتون د پرا نستلو دامتياز ور کول او منظوری د عامی روغتيا د وزير واك دی .

## تعديل ماده اول و سوم

## قانون در ملتون ها

**ماده اول :**

اين قانون باساس اهداف والای انقلاب ثور ، بمنظور تاسيس و تنظيم امور در ملتو نها وضع گرديده است .

**ماده سوم :**

منظور ی‌و اعطای امتياز افتتاح در ملتون از صلاحيت وزير صحت عامه ميباشد .

## عبد الحکیم شرعی جوزجانی
## د عدلیی وزیر !

د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت انقلابی شورا چی د ۱۳۵۸ کال دعقرب په دو همه‌نیټه‌یی د انقلابی شورا د رئیس او لومړی وزیر ملګری حفیظ الله امین په مشری د خلکو په کور کښی غونډه وکړه د ۱۳۵۸ کال‌د عقرب دمیاشتی د دو همی نیټی په شپږ دیر شمه ګڼه پر یکړه کښی یی د دولتی ادارو او تصدیو د ما لونو د لیلام قانون چی د ۱۳۵۸ کال د اسد د میاشتی د پنځلسمی نیټی په «۴۳۲» ګڼه‌رسمی جریده کښی‌خپور شوی د هغه د لومړی مادی دتعدیل سره په پنځه ویشت مادو کښی تائید او تصو یب کړ .

د انقلابی شورا د تصویب‌مراتب چی د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهوریت د انقلابی شورا د رئیس له خوامنظور شوی او د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتی دپنځمی نیټی په «۳۱۴۵» ګڼه فرمان لومړی وزارت ته ابلاغ‌شوی تاسی ته خبردرکړ‌شو چی د نو موړی قانون دلومړی مادی تعدیل په رسمی جریده کښی خپور کړی .

**داکتر شاه ولی**
**د لومړی وزیر مرستیال**

## عبد الحکیم شرعی جوز جانی
## وزیر عدلیه !

شورای انقلابی جمهو ری دمو کرا تیک افغا نستان که بتاریخ ۲ر۸ر۱۳۵۸ تحت ریاست رفیق حفیظ الله امین رئیس شو رای انقلابی و لو مړی وزیر در خانه‌خلق جلسه نمود ، تحت فیصله شماره «۳۶» مورخه ۲ر۸ر۱۳۵۸ قانون لیلام اموال ادارات و تصد یهای دولتی منتشره جر یدهٔ رسمی‌شماره «۴۳۲» «۱۵» اسد ۱۳۵۸ را بداخل بیست و پنج ماده با تعدیل ماده اول آن تائید و تصویب نمود .

مراتب تصو یب شورای انقلابی که بمنظوری رئیس شورای انقلابی جمهو ری دمو کرا تیک افغانستان رسیده و بفرمان شماره «۳۱۴۵» مورخه ۵ر۸ر۱۳۵۸ به لو مړی وزارت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا تعدیل ماده اول قانون مذکور را در جریدهٔ رسمی نشر نمایید .

**داکتر شاه ولی**
**معاون لو مړی وزیر**

**د دولتي ادارو او تصديو دمالونو د ليلام د قانون د لومړي مادې تعديل**

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون د ثور دانقلاب دلوړو هدفونو په اساس د دولتي ادارو او تصديو د مالونو د ليلام دچارو د سمون په منظور وضع شويدی .

**تعديل ماده اول قانون ليلام اموال ادارات و تصد يهاى دولتى**

**ماده اول :**

اين قانون باساس اهداف والاى انقلاب ثور ، بمنظور تنظيم امور مربوط به ليلام اموال ادارات و تصد يهاى دولتى وضع گرديده است .

**عبد الحکیم شرعی جوز جانی**

**د عدلیی وزیر !**

د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهوریت انقلابی شورا چـــی د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتی په دو همه نیټه یی د انقلابی شورا د رئیس او لو مړی وزیر ملګـــری حفیظ الله امین په مشری د خلکو په کوز کښی غونډه وکړه .

د ۱۳۵۸ کال د عقرب دمیاشتی د دو همی نیټی په شپږ دیر شمه ګڼه پریکړی کښی یی دولادی رخصتی قانون چی د ۱۳۵۸ کال د جــوزا د میاشتی د شپا ړسمی نیټی پـــه «٤٢٨» ګڼی رسمی جریده کښـــی خپور شوی له تعدیل نه پر ته تائید او تصویب کړ .

د انقلابی شورا د تصویب مراتب چی د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت د انقلابی شورا د رئیس له خوا منظور شـــوی او د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتی د پنځمـــی نیټی په «۳۱٤۱» ګڼه فرمان لومړی وزارت ته ابلاغ شوی تاسی ته خبر درکړ شو چی موضوع په رسمـــی جریده کښی خپره کړی .

**داکتر شاه ولی**

**د لومړی وزیر مر ستیال**

**عبد الحکیم شرعی جوز جانـــی**

**وزیر عدلیه !**

شو رای انقلا بی جمهــــو ری دمو کرا تیك افغا نستان که بتاریخ ۱۳۵۸/۸/۲ تحت ریاست رفیـــق حفیظ الله امین رئیس شـــو رای انقلابی و لو مړی وزیر در خانـــه خلق جلسه نمود ، تحت فیصلـــه شماره «۳٦» مور خـه ۱۳۵۸/۸/۲ قانون رخصتی ولادی منتشـــــره جر یده رسمی شماره «٤٢٨» (١٦) جوزاء ۱۳۵۸ را بداخل پنـج ماده بدون تعدیل تائید و تصـــو یب نمود .

مراتب تصو یب شورای انقلابی که به منظوری رئیس شـــو رای انقلابی جمهو ری دمو کرا تیـــك افغا نستان رسیده و بفر مـــان شماره «۳۱٤۱» مورخه ۱۳۵۸/۸/۵ به لومړی وزارت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا مو ضـوع را در جر یده رسمی نشر بدارید .

**داکتر شاه ولی**

**معاون لو مړی وزیر**

# رسمی جریده

عبدالحکیم شرعی جوز جانی

د عدلیی وزیر !

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت انقلابی شورا چی د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتی په دوهمه نیټه یی د انقلابی شورا د رئیس او لومړی وزیر ملګری حفیظ الله امین په مشری د خلکو په کور کښی غونډه وکړه د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتی د دوهمی نیټی په شپږ دیرشمه ګڼه پریکړه کښی یی د نل د اوبو د محصول قانون چی د ۱۳۵۸ کال د جوزا د میاشتی د یو دیرشمی نیټی په «۴۲۹» ګڼی رسمی جریده کښی خپور شوی تائید او تصویب کړ .

د انقلابی شورا د تصویب مراتب چی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د رئیس له خوا منظور شوی او د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتی د پنځمی نیټی په «۳۱۳۸» ګڼه فرمان لومړی وزارت ته ابلاغ شوی تاسی ته خبر درکړ شو چی موضوع په رسمی جریده کښی خپره کړی .

داکتر شاه ولی

د لومړی وزیر مرستیال

عبدالحکیم شرعی جوز جانی

وزیر عدلیه !

شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان که بتاریخ ۲ر۸ر۱۳۵۸ تحت ریاست رفیق حفیظ الله امین رئیس شورای انقلابی و لومړی وزیر در خانهٔ خلق جلسه نمود ، تحت فیصله شماره «۳۶» مورخه ۲ر۸ر۱۳۵۸ قانون محصول آب نل منتشره جریده رسمی شماره «۴۲۹» (۳۱) جوزا ۱۳۵۸ را بداخل بیست و یك ماده بدون تعدیل تائید و تصویب نمود .

مراتب تصویب شورای انقلابی که بمنظوری رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان رسیده و بفرمان شماره «۳۱۳۸» مورخه ۵ر۸ر۱۳۵۸ به لومړی وزارت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا موضوع را در جریدهٔ رسمی نشر نمایید .

داکتر شاه ولی

معاون لومړی وزیر

# رسمی جریده

**عبد الحکیم شرعی جوز جانی**

**د عدلیی وزیر !**

د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهوریت انقلابی‌شورا چی د ۱۳۵۸ کال د عقرب دمیاشتی په دو همه نیټه یی د انقلابی شورا د رئیس اولومړی‌وزیرملگری حفیظ الله امین په مشری د خلکو په کور کښی غونډه وکړه د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتی د دوهمی نیټی‌په څلور‌دیر شمه گڼه پر یکړه کښی یی‌د پیسو د خپرو لو واك د افغا نستان د دمو کرا تیك جمهو ریت د وزیرانو شورا ته ولیږ داوه .

د انقلابی شورا د تصویب‌مراتب چی د افغا نستان د دمو کراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د رئیس له خوا منظور شوی او د ۱۳۵۸ کال دعقرب د میاشتی د پنځمی‌نیټی په «۳۱۲۸» گڼی فر مان لومړی وزارت ته ابلاغ شوی تاسی ته‌خبر درکړ شو چی مو ضوع په رسمی جریده کښی خپره کړی .

**داکتر شاه ولی**

**د لومړی وزیر مر ستیال**

**عبد الحکیم شرعی جوز جانی**

**وزیر عدلیه !**

شورای انقلا بی جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان که بتاریخ ۲ر۸ر۱۳۵۸ تحت ریاست رفیق حفیظ الله امین رئیس شو رای انقلابی و لو مړی وزیر در خانهٔ خلق جلسه نمود ، تحت فیصله شماره «۳٤» مورخه ۲ر۸ر۱۳۵۸ صلاحیت نشر پول را به شورای وزیران حکو مت جمهو ری دمو کرا تیك افغانستان انتقال داد.

مراتب تصویب شورای انقلا بی که بمنظو ری رئیس شو رای انقلا بی جمهو ری‌دمو کراتیک افغا نستان رسیده و بفرمان شماره (۳۱۲۸) مورخه ۵ر۸ر۱۳۵۸ به لو مړی وزارت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا مو ضوع را در جریده رسمی نشر نمایید .

**داکتر شاه ولی**

**معاون لو مړی وزیر**

# رسمی جریده

**عبد الحکیم شرعی جوز جانی**

**د عدلیې وزیر !**

د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت انقلا بی شورا چې د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتې په دوهمه نیټه یې د انقلابی شورا د رئیس او لومړی وزیر ملګری حفیظ الله امین په مشری د خلکو په کوز کښې غونډه وکړه د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتې د دو همې نیټې په پنځه دیر شمه ګڼه پریکړه کښې یې د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهوریت د انقلابی شورا د دریمې ګڼې فرمان دیوو لسمې مادې تعدیل په څلور و فقرو کښې تصویب کړ .

د انقلابی شورا د تصویب‌مراتب چې د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت دانقلابی شورا د رئیس له خوا منظور شوی او د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتې د پنځمې نیټې په «۳۱۲۹» ګڼه فرمان لومړی وزارت ته ابلاغ شوی تاسی ته‌خبر در کړ شو چې نوموړی تعدیل په رسمی جریده کښې خپور کړی .

**داکتر شاه ولی**

**د لومړی وزیر مر ستیال**

**عبد الحکیم شرعی جوز جانی**

**وزیر عدلیه !**

شورای انقلابی جمهوری دمو کرا تیك افغا نستان که بتاریخ ۲ر۸ر۱۳۵۸ تحت ریاست رفیق حفیظ الله امین رئیس شو رای انقلابی و لومړی وزیر در خانهٔ‌خلق جلسه نمود ، تحت فیصله شماره (۳۵) مورخه ۲ر۸ر۱۳۵۸ تعدیل مادهٔ یاز دهم فرمان شماره سوم شورای انقلابی جمهوری دموکراتیك افغا نستان را بداخل چهار فقره تصویب نمود .

مراتب تصویب شورای انقلا بی که بمنظو ری رئیس شو رای انقلابی جمهوری دمو کرا تیك افغا نستان رسیده و بفر مان‌شماره «۳۱۲۹» مور خه ۵ر۸ر۱۳۵۸ به لو مړی وزارت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا تعدیل مذکور را در جریدهٔ رسمی نشر نمایید .

**داکتر شاه ولی**

**معاون لومړی وزیر**

# رسمی جریده

## د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د دریمی گنی فرمان د یوولسمی مادی تعدیل

۱ـ د افسرانو ، ورو ضابطانو او همردیفانو ، قاضیانو ددولت او دولتی تصدیو د مامورینو د ترفیع او تقاعد د اجراء وخت د هر کال د ثور اووم دی .

۲ـ هغه څوك چی د ثور دانقلاب نه د مخه مقرر شوی دی او ددولت په دستگاه کښی یی د ترفیع لپاره د خدمت ټاکلی موده د ثور په‌اوومه نیټه نه وی پوره کړی په هغه صورت کښی چی نو موړی موده د سرطان تر شپږ ویشتمی نیټی پوری بشپړه شی ، د هغه ترفیع د یو ځل لپاره د ثور د اوومی نیټی په اعتبار اجراء کیږی .

۳ـ هغه څوك چی د دی مادی د دو همی فقری د حکم په رعایت سره د ثور په اوومه‌نیټه د ترفیع‌مستحق و گڼل شی خو د اداری معاذیرو له کبله یی ترفیع اجراء نشی ، دثور د اوومی نیټی په اعتبار د سرطان تر پایه پوری اجراء کیږی .

۴ـ دغه تعدیل د ۱۳۵۸ کال د ثور له اوومی نیټی نه اعتبار لری او د قوانینو هغه حکمو نه‌چی له‌دی ضمیمی سره توپیر لری لغو گڼل کیږی .

## تعدیل ماده (۱۱) فرمان شماره سوم شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان

۱ـ موعد اجرای ترفیع وتقاعد افسران ،خورد ضابطان و همردیفان قضات ،مامورین دولت وتصدیهای دولتی (۷) ثور هر سال میباشد.

۲ـ شخصی که قبل از انقلاب ثور مقرر گردیده و در دستگاه دولت مدت معینه خدمت را برای ترفیع بتاریخ هفت ثور اکمال ننموده باشد ، در صورتیکه مدت مذکور الی (۲۶) سرطان تکمیل گردد ، برای یك مرتبه ترفیع او به اعتبار از هفت ثور اجراء میشود .

۳ـ شخصیکه با رعایت حکم فقره (۲) این ماده بتاریخ (۷) ثور مستحق ترفیع شناخته شده مگر نسبت معاذیر اداری بتاریخ مذکور ترفیع او اجراء شده نتواند،باعتبار از تاریخ هفت ثور الی اخیر سرطان اجراء میگردد .

۴ـ این تعدیل از تاریخ هفت ثور ۱۳۵۸ اعتبار داشته و احکام قوانینی که مغایر آن باشد ملغی شناخته میشود .

# رسمی جریده

## عبد الحکیم شرعی جوز جانی
## د عدلیې وزیر !

د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت انقلابی شورا چې د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتې په دو همه نیټه یې د انقلابی شورا د رئیس او لومړی وزیر ملگری حفیظ الله امین په مشری د خلکو په کور کښې غونډه وکړه د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتې د دوهمې نیټې په شپږ دیر شمه گڼه پریکړه کښې یې دشرکت یا نورو موسسو د ما مور ینو د رتبو د تعادل په هکله د دولت د ما مور ینو دقانون‌څلورمه گڼه ضمیمه چې د ۱۳۵۸ کال دجوزا د میاشتې دیو دیر شمې نیټې په «۴۲۹» گڼې رسمی جریده کښې خپره شوی تائید او تصویب کړه.

د انقلابی شورا د تصویب‌مراتب چې د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت د انقلابی شورا د رئیس له خوا منظور شوی او د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتې د پنځمې نیټې په«۳۱۳۳» گڼه‌فر مان لومړی وزارت ته ابلاغ شوی تاسی ته‌خبر در کړ شو چې‌موضوع په‌رسمی جریده کښې خپره کړی .

**داکتر شاه‌ولی**
**د لومړی وزیر مر ستیال**

## عبد الحکیم شرعی جوز جانی
## وزیر عدلیه !

شورای انقلا بی جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان که بتاریخ ۲ر۸ر۱۳۵۸ در خانه خلق تحت ریاست‌رفیق حفیظ الله امین رئیس شورای انقلابی و لومړی وزیرجلسه نمود ، تحت فیصله شماره «۳۶» مورخه ۲ر۸ر۱۳۵۸ ضمیمهٔ شما ره چهارم قانون ما مورین دولت درباره تعادل رتبه های مامورین ، شرکت یا مو سسات دیگر را که در جریدهٔ رسمی شماره «۴۲۹» مورخه (۳۱) جوزا ۱۳۵۸ نشر گردیده تائید و تصویب نمود .

مراتب تصو یب شورای انقلابی که بمنظوری رئیس شورای انقلابی جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان رسیده و بفرمان شماره «۳۱۳۳» مورخه ۵ر۸ر۱۳۵۸ به‌لومړی وزارت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا مو ضوع را در جریدهٔ رسمی نشر نمایید .

**داکتر شاه ولی**
**معاون لومړی وزیر**

**عبد الحکیم شرعی جوز جانی**

**د عدلیې وزیر !**

د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت انقلابی شورا چې د ۱۳۵۸ کال د عقرب په دو همه نیټه یې د انقلابی شورا د رئیس او لومړی وزیر ملگری حفیظ الله امین په مشری د خلکو په کور کښې غونډه وکړه د ۱۳۵۸ کال د عقرب د میاشتې د دو همې نیټې په (۳۶) گڼه پر یکړه کښې یې د افغان دملی بیمې قا نون چې د۱۳۵۸ کال دمیز ان د میاشتې د شپاړ سمې نیټې په «۴۳۰» گڼه رسمی جریده کښې خپور شوی له تعدیل نه پرته په دری خلو یښت مادو کښې تائید او تصویب کړ .

د انقلابی شورا د تصویب مراتب چې د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهوریت د انقلابی شورا درئیس له‌خوا منظور شوی او د ۱۳۵۸ کال دعقرب د میاشتې د پنځمې نیټې په «۳۱۳۴» گڼه فرمان لومړی‌وزارت ته ابلاغ شوی تاسی ته خبر درکړ شو چې مو ضوع په رسمی جریده کښې خپره کړی .

**داکتر شاه ولی**

**د لومړی وزیر مر ستیال**

**عبد الحکیم شرعی جوز جانی**

**وزیر عدلیه !**

شورای انقلا بی جمهـــــوری دمو کرا تیک افغا نستان که بتاریخ ۲ر۸ر۱۳۵۸ تحت ریاست رفیـــق حفیظ الله امین رئیس شـــورای انقلابی و لو مړی وزیر در خانه‌خلق جلسه نمود ، تحت فیصله شمـــاره «۳۶» مورخه ۲ر۸ر۱۳۵۸ قا نـــون بیمهٔ ملی افغان را بداخل چهل‌وسه ماده که در جریدهٔ رسمی شمـــاره «۴۳۰» تاریخی (۱۶) میزان ۱۳۵۸ نشر گردیده بدون تعدیل تائیـــد و تصو یب نمود .

مراتب تصویب شورای انقلا بی که بمنظوری رئیس شورای انقلابی جمهو ری دمو کرا تیک افغا نستان رسیده و بفر مان شمـــاره «۳۱۳۴» مورخه ۵ر۸ر۱۳۵۸ به لومړی وزارت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا مو ضوع را در جریدهٔ رسمی‌نشر نمایید .

**داکتر شاه ولی**

**معاون لومړی وزیر**

## عبد الحکیم شرعی جوز جانی

## د عدلیې وزیـر !

د وزیرا نو مجلس په «۱۹۲۳» گنه پریکړه کښې د۱۳۵۸ کـــال د عقرب د میاشتې د اووه ویشتمې نیټې په غونډه کښې د عدلیــــې د وزارت د ۱۳۵۸ کال د عقـــرب د میاشتې د اووه ویشتمې نیټــې «۲۷۳۳» گڼې عرض پاڼې ته پــه کتنه لاندې مراتب د ملي صناعتـې مو سسو د کار او کارگرانـــو د قانون د درې شپیتمې مادې د (د) د فقرې پحیث تصویب کړل :

«د ــ که چیرې دولتي موسسـې او تصدی د ثور د انقلاب د ضـــد عناصرو د ورا نکارې په سبـــب و دریږي د هغو کار گران ، اجیران او ما مورین د موسسې د بیـــا فعا لیدلو یا د مربوطې اداري له‌خوا د کار د برابر یدلو تر وخته پورې دمیا شتنې بشپړ معاش مستحـــق دي .

په دې هکله دې تقنیني فرمان په لاس راوړل شي . »

د وزیرا نو د مجلس د تصویب مراتب چې د افغانستان‌د دموکراتیك جمهو ریت د انقلابي شورا درئیس له حضوره منظور شوي او د انقلابي شورا د ۱۳۵۸ کال د عقرب‌دمیاشتې

## عبد الحکیم شرعی جوز جانی

## وزیر عدلیه !

مجلس وزراء تحت فیصلــــه شماره «۱۹۲۳» در جلسه تاریخــی ۲۷ر۸ر۱۳۵۸ با ملاحظه ورقه عرض شماره «۲۷۳۳» مورخ ۲۷ر۸ر۱۳۵۸ وزارت عدلیه مراتب اتی را بحیث فقره (د) ماده (۶۳) قانون کـــار و کار گران مو سسات صناعتی ملی تصو یب نمود :

«د ــ هر گاه مو سسات و تصدی های دولتی در اثر تخر یبـــات عناصر ضد انقلاب‌ثور متوقف گردد کار گران ، اجیران و ما مورین آن الی فعال شدن مجدد مو سسه ویا تدارك كار توسط اداره مر بـــوط مستحق معاش مکمل ما هوار مـــی باشند .

در زمینه فر مان تقنینی گرفتـه شود .»

مراتب تصویب مجلس وزراء کـــه به منظور ی‌حضور رئیس‌شـورای انقلا بی جمهو ری دموکر اتیـــك افغا نستان رسید ه‌وبه‌فر مان‌تقنینی

# رسمی جریده

د اته‌ویشتمی نیټې په «۳۲۲۱» ګڼه فرمان تائید او حکومت ته ابـــلاغ شوی تاسی ته خبر در کړ شوچی مو ضوع په رسمی جریده کښـــی خپره کړی .

شماره «۳۲۲۱» مورخه ۲۸ر۸ر۱۳۵۸ رئیسس شورای انقلابی تائیـــــد و بحکو مت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا مو ضوع را در جریدهٔ رسمی نشر نمایید .

**داکتر شاه‌ولی**
**د لومړی وزیر مرستیال**
**او دبهر نیو چا رو وزیـــر**

**داکتر شاه ولـــی**
**معاون لومړی وزیر**
**وو زیر امو رخا رجـــه**

# رسمی جریده

## عبد الحکیم شرعی جوزجا نی د عدلیی وزیر !

د وزیرا نو مجلس په «۱۹۲٤» گڼه پر یکړه کښې د ۱۳۵۸ کـال د عقرب د میاشتی د اووه ویشتمـی نیټې په غونډه کښې د عدلیـی د وزارت د ۱۳۵۸ کال د عقـرب د میاشتی د اووه ویشتمی نیټـی «۲۷۳٤» گڼې عرض پاڼې ته په‌کتنه لاندی مراتب تصویب کړل :

«د پا سپورت د اصو لنامـی یوو لسمه گڼه ضمیمه په څلورو مادو کښې د ننه منظور ده . په‌دی هکله‌دی تقنینی فرمان‌واخستل‌شی.»

د وزیرا نو د مجلس د تصویب مراتب‌چی دافغانستان د دموکراتیك جمهو ریت د انقلابی شورا د رئیس له حضوره منظور شوی او د انقلابی شورا د رئیس د ۱۳۵۸ کـال د عقرب د میاشتی د اته ویشتمی‌نیټې په «۳۲۲۲» گڼې فرمان تائیـد او حکو مت ته ابلاغ شوی تاسی ته خبر در کړ شو او د نو مـوړی ضمیمی یو نقل چی د دار الانشاء مهر پری لگید لی دی در ولیـږل شو چی په رسمی جریده کښې یې خپره کړی .

**داکتر شاه ولی**

**د لو مړی وزیر مر ستیال**

**او د بهر نیـو چا رو وزیر.**

## عبد الحکیم شرعی جوزجانی وزیر عدلیه !

مجلس وزراء تحت فیصله‌شماره «۱۹۲٤» در جلسـه تـار یخـی ۲۷ر۸ر۱۳۵۸ با ملاحظه ورقه عرض شماره «۲۷۳٤» مورخ ۲۷ر۸ر۱۳۵۸ وزارت عدلیه مراتب آتی راتصویب نمود :

«ضمیمه شماره یازده اصو لنامه پا سپورت بداخل (٤) ماده منظور است . در زمینه فرمان تقنینـی گرفته شود .»

مراتب تصو یب مجلس وزراء که بـه منظو ری حضور رئیـس شورای انقلا بی جمهو ری دموکرا- تیك افغانستان رسیده و بفرمـان تقنینی شماره «۳۲۲۲»مور خـه ۲۸ر۸ر۱۳۵۸ ر ئیس شـورا ی- انقلا بی‌تا ئیدوبحکو مت‌ابلاغ‌گردیده بشما اطلاع و یك کاپی از ضمیمه مذکور بمهر دار الا نشاء از سال میگردد تا در جریده رسمی نشر بدارید .

**داکتر شاه ولی**

**معاون لو مړی وزیر**

**و وزیر امور خارجه**

د پا سپورت د اصو لنامــــی

یوو لسمه گنه ضمیمه

لو مړی ماده :

عادی پا سپورت بهر ته یواځی د یو وار سفر او هیواد ته دراتگ لپاره اعتبار لری .

د پا سپورت د اصولنامی دنهمی گنی ضمیمی د دو لسمی مـــادی مندرج د تجارت عادی پا سپـورت او کثیر المسا فرت ویزه له دغـه حکم نه مستثنی دی .

دو همه ماده :

که چیری ښځه او میړه ســره یو ځای سفر وکړی په داسی حال کښی چی‌دوی‌دواړه د عادی‌پاسپورت تابع وی هر یو د ځانگړی‌پاسپورت په اخستلو مکلف دی .

دریمه ماده :

(۱) د دولت کار کوو نکـــی او متقا عدین او نور اشخاص چـــی د خپلوانو د لید لو لپاره هیوادنه د باندی سفر کوی ، په هغه صورت کښی چی خپلوان یی له هیواد نه‌د باندی د دولت په رسمی ما موریت

ضمیمه شماره (۱۱)

اصو لنامه پا سپورت

ماده اول :

پاسپو رت عادی صرف بـــرای یکبار سفر بخا رج و عودت بکشور اعتبار دارد .

پا سپو رت عادی بمنظور تجارت وویزه کثیر المسا فر ت منـــد رج ماده (۱۲) ضمیمه شـــماره (۹) اصو لنامه پاسپورت از ین حکـــم مستثنی میبا شد .

ماده دوم :

هر گاه خانم و شوهر یکجا سفر نمایند در حالیکه هر دوی آنهاتابع پا سپورت عادی باشند هر کـــدام باخذ پا سپورت جدا گانه مکلـــف میباشند .

ماده سوم :

(۱) کار کنان دولت ، متقاعدین‌و سایر اشخا صیکه بمنظور دیـــدن اقارب بخارج کشور سفر مینما یند در صور تیکه اقارب شان در خارج کشور بما موریت رسمی دولت یا

یا د دولت په موافقه په بین المللی مو سسو کښی موظف نه وی مکلف دی چی د سیاحت عادی پا سپورت واخلی ، مگر داچی لومړی وزارت بل ډول تجویز وکړی .

(۲) د دولت کار کوونکـــــی او متقا عدین چی د سیاحت په منظور له هیواد نه بهر سفر کـوی ،مکلف دی چی د سیاحت پا سپورت واخلی مگر داچی لو مړی وزارت بل ډول تجویز وکړی .

**خلور مه ماده :**

دغه ضمیمه په رسمی جریـــده کښی له خپرید لووروسته نافــذ یږی او په نفاذ سره یی هغـــــــه حکمو نه چی د دی ضمیمی لـــــه حکمو نو سره تو پیر ولری ملغـی گڼل کیږی .

مو سسات بین المللی بموا فقـت دو لت موظف نباشند مکلفنـــــــد پا سپورت سیا حت اخذ نمایند،مگر اینکه لومړی وزارت طور دیگـــری تجویز نماید .

(۲) کار کنان دولت و متقا عدین که بمنظور سیاحت به خارج کشور سفر مینما یند مکلف اند پاسپورت سیا حت اخذ نمایند ، مگر اینکـه لو مړی وزارت طور دیگری تجویـز نماید .

**ماده چهارم :**

این ضمیمه بعد از نشر درجریده رسمی نافذ میگردد و با نفـــاذ آن احکا میکه مغایر این ضمیمه باشد ملغی شنا خته میشود .

**عبد الحکیم شرعی جوزجانی**

**د عدلیې وزیر !**

د وزیرانو مجلس په «۱۹۳٤» گڼه پریکړه کښې د ۱۳۵۸ کال د قوس د میاشتې د څلور می نیټې په غونډه کښې د عدلیې د وزارت د ۱۳۵۸ کال د قوس د میاشتې د څلور می نیټې «۲۸۰۲» گڼې عرض پاڼې ته په کتنه لاندې مراتب تصویب کړل :

«دثور دانقلاب د شهیدانو د حقوقو او امتیازاتو قانون په‌شپږ مادو کښې منظور دی . په‌دې هکله دې تقنینی فرمان واخستل شی .»

د وزیرانو د مجلس د تصویب مراتب چې‌د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د رئیس له حضوره منظور شوی اود انقلابی شورا د رئیس د ۱۳۵۸ کال د قوس د میاشتې د پنځمې نیټې په «۳۲٤٤» گڼه تقنینی فرمان تائید او لومړی وزارت ته ابلاغ شوی دی تاسی ته خبر در کوو چې نوموړی قانون په رسمی‌جریده کښې خپور کړی .

**داکتر شاه ولی**

**د لومړی وزیر مرستیال**

**او د بهرنیو چارو وزیر**

**عبد الحکیم شرعی جوز جانی**

**وزیر عدلیه !**

مجلس وزراء تحت فیصله‌شماره «۱۹۳٤» در جلسهٔ تاریخی ٤ر۹ر۵۸ با ملاحظهٔ ورقهٔ عرض شماره «۲۸۰۲» مورخ ٤ر۹ر۱۳۵۸ وزارت عدلیه مراتب اتی را تصویب نمود :

«قانون حقوق و امتیازات شهدای انقلاب ثور بداخل شش ماده منظور است . در زمینه فرمان تقنینی گرفته شود .»

مراتب تصویب مجلس وزراء که به منظوری حضور رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان رسیده و بفرمان تقنینی شماره «۳۲٤٤» مورخه ۵ر۹ر۱۳۵۸ رئیس شورای انقلابی تائید و به لومړی وزارت ابلاغ گردیده بشما اطلاع داده شد تا قانون مذکور را در جریدهٔ رسمی نشر بدارید .

**داکتر شاه ولی**

**معاون لومړی وزیر**

**و وزیر امور خارجه**

## د ثور د انقلاب د شهيدا نـــو د حقوقو او امتيازاتو قانون

### لو مړی ماده :

د خلکو د وسله والو قـــواوو افسران ، د څار ندوی افســـران قاضيان ، ددولتي ادارو او تصديو ما مورين‌چې د ثورد آزادي‌بخښونکی انقلاب نه د دفاع په لار کښـــی د وظيفی د پای ته رسو لو په سبب شهيدان شي ، شل زره افغانی يی بيرته پاتی کسانو سره داکرا ميی په ډول مرسته کيږی .

### دو همه ماده :

که د خلکو د وسله والو قواوو افراد ، د څار ندوی افراد ، ددولتي ادارو او تصديو اجيران ، د عامـه مو سسو کار کوو نکی ، د هغـــو مو سسو کار گران او اجيران چې د ملی صناعتی مو سسو د کار او کارگرانو د قانون تابع وی، دانقلاب نه د دفاع د کميټو او نورواجتماعی ساز مانو نوغړی چې د ثور دآزادی بخښونکي‌انقلاب‌نه‌د دفاع‌په‌لارکښی د وظيفی د پای ته رسولو په سبب شهيدان شي ، لس زره افغانی يی بيرته پاتی کسانو سره دا کراميی په ډول مرسته کيږی .

## قانون حقوق و امتيا زات شهدای انقلاب ثور

### ماده اول :

افسران قوای مسلح خلق،افسران څارندوی ، قضات ،مامورين‌ادارات‌و تصدی های دو لتی که به اثـــر اجرای وظيفه در راه دفاع از انقلاب نجات بخش ثور به شهادت ميرسند مبلغ بيست هزار افغانی طـــور اکرا ميه به باز ماند گان آنهـــا مسا عدت ميشود .

### ماده دوم :

هر گاه افراد قوای مسلح خلـق افراد څار ندوی ، اجيران ادارات و تصد يهای دولتـــی . کار کنـــان مو سسات عامه ، کار گران‌واجيران مو سسا تيکه تابع قانون کـــار و کار گران مو سسات صنا عتی ملی باشند ، اعضای کميته های دفاع‌از انقلاب و سايرساز مانهای اجتماعی که در اثر اجرای وظيـفـه در راه دفاع از انقلاب نجا تبخش ثور به شها دت ميرسند مبلغ ده هـــزار افغانی طوراکرا ميه‌برای بازماندگان آنها مسا عدت ميشود .

**دریمه ماده :**

د دغه قانون په لومړی او دوهمه ماده کښې مندرجو اشخاصو ته د اصلی رتبې یا اصلی درجې میاشتنی او روستی معاش د تقاعد د حقوقو په حیث هره میاشت ورکول کیږی .دبیرته پاتی کسانو د تثبیت او د تقاعد د حقوقو د ورکولو په هکله د دولت د مامورینو د قانون (۱۰۷) مادی نه تر (۱۱۱) مادی پوری رعایت کیږی .

**څلورمه ماده :**

که چیری د دغه قانون د لومړی او دوهمې مادی مندرج اشخاص د ثور د آزادی بخښونکی انقلاب د دفاع په لار کښې :

۱ــ ټپیان شی ، په وړیا تداوی بر سیره د رو غیدلو تر وخته پوری د خپل وروستی میاشتنی معاش مستحق دی .

۲ــ داسی معلول شوی وی چی د کار د کولو قدرت یې له لاسه ورکړی وی ، د اصلی رتبې یا اصلی درجې میاشتنی معاش په سلو کښې سل د معلولیت د لری کیدلو تر وخته پوری د تقاعد د حقوقو په حیث هغوی ته ورکول کیږی .

**ماده سوم :**

برای باز ماندگان اشخاص مندرج مواد (۱ـ۲) این قانون اخرین معاش ماهوار رتبه اصلی ویا درجه اصلی ، بحیث حقوق تقاعد ماهوار پر داخته میشود . درمورد تثبیت باز ماندگان و توزیع حقوق تقاعد مواد (۱۰۷ الی ۱۱۱) قانون مامورین دولت رعایت می شود .

**ماده چارم :**

هرگاه اشخاص مندرج مواد (۱ـ۲) این قانون در راه دفاع از انقلاب نجات بخش ثور :

۱ــ مجروح گردند ، علاوه بر تداوی مجانی الی زمان صحت، یابی مستحق اخرین معاش ماهوار خود میباشند .

۲ــ طوری معلول شده باشند که قدرت کار را از دست داده باشند صد فیصد معاش ماهوار رتبه اصلی یا درجه اصلی معلول الی زمان رفع معلولیت بحیث حقوق تقاعد باو شان پر داخته میشود .

**پنځسمه ماده :**

د افغانستان د خلکو دو سلهوالو قواوو افراد و ته چی شهید او یا داسی معیوب شی چی د تولیدی کار د کولو قدرت ونه لری ،د میاشتی دوه زره افغانی د هغوی کورنی یا پخپله دوی ته د تقاعد د مقرراتو سره سم په سلوکښی سل ور کول کیږی .

**شپږمه ماده :**

دغه قانون په رسمی جریده کښی خپریږی او د ۱۳۵۸ کال د سنبلی د میاشتی له پنځه ویشتمی نیټی نه تطبیقیږی .

**ماده پنجم :**

برای افراد قوای مسلح خلق افغانستان که شهید و یا طوری معیوب میشوند که قدرت کار تولیدی را نمیداشته باشند ،ماهانه دو هزار افغانی به فامیل و یا خود او شان مطابق مقررات تقاعد صد فیصد تادیه میگردد .

**ماده ششم :**

این قانون در جریدهٔ رسمی نشر و از تاریخ ۲۵ سنبله ۱۳۵۸ تطبیق میگردد .

**عبدالحکیم شرعی جوزجانی**
**د عدلیې وزیر !**

د وزیرانو مجلس په «۱۹۳۵» کېڼه پر یکړه کښې د ۱۳۵۸ کال د قوس د میاشتې د څلورمې نېټې په غونډه کښې د لومړي وزارت د ۱۳۵۸ کال د قوس د میاشتې د لومړۍ نېټې عرض پاڼې ته په کتنه په سړو ورځو کښې د مامورینو او کارګرانو د کار د وختونو په هکله لاندې مراتب تصویب کړل :

«د مامورانو او کارګرانو د کار د وخت بدلون د ۱۳۵۸ کال د قوس د میاشتې له اوه لسمې نېټې نه د حوت د میاشتې تر لومړۍ نېټې پورې په داسې ډول چې د سهار له اته نیمو بجو نه پیل او د غرمې نه وروسته په دری نیمو بجو پای ته ورسیږي او د پنجشنبې په ورځو د سهار په اته نیمو بجو پیل او د غرمې نه وروسته په یوه بجه پای ته ورسیږي منظور دی .»

د وزیرانو د مجلس د تصویب مراتب چې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د رئیس له حضوره منظور شوی تاسی ته خبر درکړ شو چې موضوع په رسمی جریده کښې خپره کړی .

**ډاکټر شاه ولی**
د لومړي وزیر مرستیال
او د بهرنیو چارو وزیر

**عبدالحکیم شرعی جوزجانی**
**وزیر عدلیه !**

مجلس وزراء تحت فیصله شماره «۱۹۳۵» در جلسهٔ تاریخی ۱۳۵۸/۹/۴ با ملاحظه ورقه عرض مورخ اول قوس ۱۳۵۸ لومړی وزارت راجع به اوقات کار مامورین و کارگران در ایام سرما مراتب اتی را تصویب نمود :

«تغییر وقت کار ماموران و کارگران از تاریخ (۱۷) قوس الی اول ماه حوت ۱۳۵۸ طوریکه بساعت هشت و نیم صبح آغاز و بساعت سه و نیم بعد از ظهر ختم گردد و در روز های پنجشنبه بساعت هشت و نیم صبح شروع و بساعت یك بعد از ظهر خاتمه یابد منظور است .»

مراتب تصویب مجلس وزراء که به منظوری حضور رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان رسیده بشما خبر داده شد تا موضوع را در جریدهٔ رسمی نشر بدارید .

**داکتر شاه ولی**
**معاون لومړی وزیر**
**ووزیر امور خارجه**

# رسمی جریده

د دار التادیب د لایحې پنځمه
گڼه ضمیمه

**لومړۍ ماده :**

د دار التادیب ریاست په مرکز کښې د عدلیې د وزارت د تشکیل د جزء په ډول او د عدلیې د وزارت تر مستقیم اثر لاندې فعالیت کوي.

**دوهمه ماده :**

دار التادیب عجالتاً په مرکز کښې د یو تجربوي مرکز په ډول فعالیت کوي او په ولایتونو کښې په تدریجي ډول د عدلیې د وزارت له خوا تاسیسیږي .

**دریمه ماده :**

د علاقه لرونکو ارګانو او ادارو د فعالیت د اغیزمن تنظیم او یو شان کولو او د کوچنیانو د جرمونو د مخنیوي په منظور د ګټورو تجویزونو د نیولو لپاره له لاندې کسانو نه د دار التادیب عالي شورا جوړیږي:

- د عدلیې وزیر
- د عدلیې معین
- د لوی څارنوال مرستیال
- د عامې روغتیا لومړی معین
- د ښوونې او روزنې د وزارت لومړي معین

ضمیمهٔ شماره (۵) لایحه
دار التادیب

**ماده اول :**

ریاست دار التادیب در مرکز بحیث جز تشکیل وزارت عدلیه بوده و تحت اثر مستقیم وزارت عدلیه فعالیت مینماید .

**ماده دوم :**

دار التادیب عجالتاً در مرکز بحیث یك مرکز تجربوی فعالیت نموده و در ولایات بصورت تدریجی از طرف وزارت عدلیه تاسیس میگردد .

**ماده سوم :**

بمنظور تنظیم موثر و هم آهنگ ساختن فعالیت های ارگان ها و ادارات ذیعلاقه و اتخاذ تجاویز مثمر در جهت جلوگیری از جرایم خورد سالان و بهبود امور در بوقت دار التادیب ، شورای عالی دار التادیب از قرار ذیل تشکیل میگردد :

- وزیر عدلیه
- معین عدلیه
- مرستیال لوی څارنوال
- معین اول وزارت صحت عامه
- معین اول وزارت تعلیم و تربیه

ـ د کورنیو چارو د وزارت معین
ـ د تقنین رئیس
ـ د ځوانانو د خلقی سازمان رئیس
ـ د ښځو د خلقی ساز مان رئیسه
ـ د کو چنیا نو د اختصا صی محکمی رئیس
ـ د دار التا دیب رئیس

**څلورمه ماده :**

د دار التایب عالی شورا په‌عادی ډول په هرو دریو میا شتو کښی یو ځلی غونډه کوی ، فوق العاده غونډی د عدلیی د وزیر په تصمیم جوړ یږی .

د عالی شورا غونډی د عدلیی د وزیر په مشری او د هغه په‌غیاب کښی د عدلیی د معین په مشری جوړ یږی .

**پنځمه ماده :**

د دار التادیب رئیس د عالی شورا د منشی په ډول لاندی وظیفی لری :

۱ـ د جلسی د اجندا تر تیبول.
۲ـ غړو ته د غونډی د جو ړیدو د نیټی ابلا غول .

ـ معین وزارت داخله
ـ رئیس تقنین
ـ رئیس ساز مان خلقی جوانان
ـ رئیسه ساز مان خلقی زنان
ـ رئیس محکمهٔ اختصا صی اطفال
ـ رئیس دار التا دیب

**ماده چارم :**

شورای عالی دارالتادیب بصورت عادی در هرسه ماه یکبار تشکیل جلسه میدهد ، جلسات فوق العاده به تصمیم وزیر عدلیه دایر میگردد.

جلسات شورای عالی تحت ریاست وزیر عدلیه و در غیاب او تحت ریاست معین عدلیه دایر می گردد .

**ماده پنجم :**

رئیس دار التادیب بحیث منشی شورای عالی دارای وظایف ذیل میباشد :

۱ـ تر تیب اجندای جلسه .
۲ـ ابلاغ تاریخ انعقاد جلسه به اعضا .

۳ـ مربوطو مراجعو ته د عالی شورا د تصمیمو نو ابلاغول .

٤ـ د عالی شورا د تصمیمو نو د اجرا تعقیبول .

٥ـ عالی شورا ته د تصمیمو نو د نتیجو په هکله رپوټ برابرول او وړاندی کول .

٦ـ نوری هغه وظیفی چیدعالی شورا رئیسس یی ور سپاری.

**شپږ مه ماده :**

د دی ضمیمی په نافذ یدلو سره د دار التادیب د لایحی د (د) د ضمیمی د اتمی او دریمی مادی حکمو نه او نور هغه حکمو نه چیله دی ضمیمی سره توپیر ولری لغو کیږی .

دغه ضمیمه په رسمی جریده کښی له خپرید لو وروسته نافذ یږی .

۳ـ ابلاغ تصا میم شورای عالی به مراجع مربوط .

٤ـ تعقیب اجرای تصا میم شورای عالی .

٥ـ تهیه و تقدیم گزارش درمورد نتایج تصا میم ، به شورای عالی.

٦ـ سایر وظایفی که رئیس شورای عالی باو تفویض میکند .

**ماده ششم :**

با نفاذ این ضمیمه احکام ماده (۸) و ماده (۳) ضمیمه (د) لایحه دار التا دیب و سایر احکا میکه مغا یر این ضمیمه با شد ملغی می گردد .

این ضمیمه از تاریخ نشر در جریدهٔ رسمی نافذ میگردد .

**وجه اشتراک**

مرکز ۳۰۰ افغانی

ولایات ۳۴۰ "

برای محصلان و متعلمان نصف قیمت

خارج کشور ۵۰ دالر امریکائی

**قیمت این شماره (۳۰) افغانی**

THE DEMOCRATIC REPUBLIC
OF AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# *OFFICIAL GAZETTE*

**Editor: A. Ghafar Giramy**
**Assistant:** Rohgul Noory
Issue No. (440)
Date: December 6, 1979

دولتی مطبعه

دچاپ شمیر «۳۵۰۰» نسخـــی